د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

عاجل ☐ عادی ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير ☐

د متحدالمآل ګڼه: ۳۵

نېټه: ۱۴۴۴/۵/۲ هق

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۱۹هق په اساس هدايت کړی وو چي ستره محکمه دې د تيري اداري نهائي او قطعي شوي غير تطبيق شده فيصلو لپاره طرزالعمل جوړ کړي.

د پورته ذکر شوي هدايت مطابق، ستري محکمې د تيري اداري نهائي او قطعي شوي غير تطبيق شده فيصلو لپاره طرزالعمل جوړ کړی چي د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم /مورخ ذوالحجة الحرام/۱۴۴۳هق په اساس تائيد شو او د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۱۳) مورخ ۱۴۴۴/۲/۲هق په توسط ټولو محکمو ته واستول شو.

د مشرتابه محترم عالي مقام په پورته ذکر شوي حکم کي (د تيري اداري نهائي او قطعي غير تطبيق شده فيصلې) ليکل شوي اوس پوښتنه دا ده: چي د تيري اداري نهائي او قطعي غير تطبيق شده فيصلو څخه مراد کومې فيصلې دي؟ په دې اړه د ستري محکمې عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۴/۱/۲هق کي د تصويب نمبر (۱) د يولسمي پريکړي په اساس هدايت کړی وو چي خلاصه يې داسي ده: (د ستري محکمې د مدني ديوان رئيس محترم مفتي قيام الدين صاحب او د ستري محکمې د دارالافتاء رئيس محترم شيخ عزيزالله المظهري صاحب دې د تيري اداري نهائي او قطعي فيصلو په باره کي معلومات راټول کړي)، په همدې اساس ذکر شوي علماء کرامو، د تيري اداري د نهائي او قطعي فيصلو په باره کي معلومات راټول کړي وو چي ياد معلومات د ستري محکمې د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۴/۳/۹هق مصادف ۱۴۰۱/۷/۱۳هش کي مطرح شوه او د تصويب نمبر(۷) مورخ ۱۴۴۴/۳/۹هق د دوهمي پريکړې په اساس، عالي شورا داسي هدايت وکړ:

((د تيري اداري نهائي او قطعي فيصلو څخه مراد هغه نهائي او قطعي فيصلې دي چي د تيري اداري د اصولو پر بناء نهائي يا قطعي بلل سوي وي.))

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب دوهمه پریکړه د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د سترې محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af